مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاهجان هاجره حرکت ۲۰۲۶/۰۹/۲۸

# نوی پيغام او نوې ساه

تورو سترګو د بنو شاته
دا ځليدلي اوښکي
غم او خوښی بخري
په تويدو کي نوې لار لټوي
لکه د مني موسم
د زړې وني خاښ يې باد ښوروي
چي يې له ځانګي رالويدلي پاڼه
سيلۍ ځپه کي پر هوا تاويږي
د ژوندون لنډ مزل تر شا پريږدي
او پر يو بله هستی
بيا را توکيږي نوې ساه اخلي
نوی موسم بله رڼا اخلي
او سپيده چاود کي
پر سپيره دښته
له روان شوي کاروان
بل شوي اور نه
پاتي شوې ايرې
سهار وختي
د کوچی پيغلي مات بنګړی
د لمر زرينو پلوشو کي
شنه رڼا کوي
د بل کاروان په تمه
د شنه موسم تر دمه
کړي د ژوندون لار سمه
بيا ستنيدو لپاره
په بله بڼه او رنګ
اسمان او زمکه
غرونه راغونه او سيندونه واړه
پر طبيعت ټوله هستي همغاړه
نوی پيغام او نوې ساه خپروي
نوی پيغام او نوې ساه خپروي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ